شریعت

اونیزه

د طالبانو د اسلامي تحریک نشراتي ارگان

لومړی کال دوهمه گڼه د ۱۳۷٤ ش کال د مرغومی (جدی) د میاشتی (٤) د ۱۹۹۵ کال د دیسمبر (۲۵) د ۱٤۱٦ ق کال د شعبان المعظم (۵)

الهی فرمان.

بیامو ددین په کار کی ته په شریعت باندی مسؤل گرځولی یی، نو دهغه متابعت وکړه، او دهغه چا دارزوگانو متابعت مه کوه چی نه پوهیږی. بی شکه دوی له تا څخه د الله هیڅ عذاب نشی دفع کولای. یعقیناً ظالمان ځینی ددوی د ځینو نوور دوستان (کارجوړونکی) دی، او الله دمتقیانو دوست (کارجوړونکی) دی. جاثیه : ۱۷ - ۱۹

نبوی ارشاد

حضرت ابی سعید خدری رضی الله عنه وایی د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: دقیامت په ورځ به لوی خدای جل جلاله ته له ټولو نه زیات محبوب او هغه ته زیات نژدی عادل حکمران وی. او له ټولونه زیات مبغوض او منفور به الله تعالی ته ظالم حکمران وی.

(دغه حدیث امام ترمذی روایت کړی دی)

داسلام خادم ملا محمد عمر (مجاهد) د اسلامي تحریک د عالي شوري غړیو ته وویل:

موږ چی کوم کارونه کوو هغه به یوازی او یوازی دلوی خدای(ج) د رضا او دافغانستان دمجاهد ملت دسوکالی په خاطر وی

کندهار – طلوع افغان

دروان کال دلیندی د میاشتی په (۱۱) مه نیټه د اسلام خادم ملامحمدعمر(مجاهد) په خپل استوگنځی کښی داسلامي تحریک له مرستیال الحاج ملا محمد(ربانی) دکندهارله والی الحاج ملا محمد حسن اخند سره په داسی حال کښی ولیدل چی دعالي شوری یو شمیر نور غړی هم موجود و.

غونډه کښی په گډو نظامی، سیاسی، اجتماعی او اداري چارو خبری او دنظر تبادله وشوه.

خبر ځای وړاندی لیکي دغونډی په پای کښی د طالبانو د اسلامي تحریک امیر او د اسلام خادم ملامحمد عمر(مجاهد) د عالي شوری غړیوته وفرمایل: موږ چی کوم کارونه کوو هغه به یوازی او یوازی دلوی خدای(ج)درضا او دافغانستان دمجاهد ملت دسوکالی په خاطروی، نو بیا په دی هکله به دچا دصفت او غیبت باك نه لرو، زموږ په زړونو الله تعالی عالم دی که موږ تقوی او دیانت وکړو نو بیابه د توانا خدای(ج) په مرسته بریالی کیږو.

***

دنیمروز ولایت په پولو دایرانی ملیشی په گډون دمزدوری ملیشی حمله د (۲۰) تنه مړیو په پریښودو شاتلو ته اړ شوه

دنیمروز له ولایت نه د(شریعت اونیزی) خبریال خبر راکړ چی د ۱۳۷٤ هـ ش کال دلیندی دمیاشتی په ۲۹ مه نیټه دنیمروز ولایت په پولو چیرته چی دطالبانو داسلامی تحریك دمجاهدینو ځواکونه پراته دی یو شمیر مزدورو او پلورل شویو ملیشو دخپل ایرانی بادار په هر اړخیزه مرسته حمله وکړه ترڅو دخلکو ذهنونه گډ وډ او دسیمی امنیت خراب کړی چی په نتیجه کښی داسلامی تحریك دمؤمنو مجاهدینو لخوا سخت وټکول شول او دخلور تنه ایرانی ملیشی دمړیو په گډون د ۲۰ تنه مړیو په پریښودو بیرته دایران خاوری ته په تیښته بریالی شول.

***

دخوست په ولایت کښی په ډول ډول وسلو بار دوه عرادی پیك اپ موټرونه ونیول شول

دخوست ولایت نه د(شریعت اونیزی) خبر یال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال دلیندی دمیاشتی په۲۷ مه نیټه دوه عرادی پیك اپ موټرونه چی ډول ډول سپکه او درنه وسله او مهمات پکی ځای په ځای شوی وو او دپاکستان دپولو لور دحرکت په حال کښی وو دخوست ولایت دامنیتی ځواکونو لخوا کشف او ونیول شول. خبر ځای زیاتوی مجرمین دشریعت منگولو ته سپارل شوی دی.

***

الحاج مولوی احمدجان له شریعت سره په مرکه کښی :

د کابل د شرمبدلی اداری د رنگیدو شیبی را نږدی شوی

په پېښور کښی د طالبانو د اسلامی تحریك نماینده محترم الحاج مولوی احمدجان د یوی پښتنی په ځواب کښی وویل:

الحمد والمنة دا سپیځلی تحریك د هیواد له هغو اصیلو زامنو څخه جوړ شوی چی د هغوی ناسته پاڅه خوراك څښاك په عبادت کښی گڼل کیږی، نو زموږ دا عقیده ده چی دا تحریك به خپل منزل مقصود ته رسیږی.

الحاج مولوی احمدجان د بلی پوښتنی په ځواب کښی وویل: ان شاء الله د کابل د شرمبدلی اداری د رنگیدو شیبی را ئنږی شوی دوی به د قرآن کریم د قاریانو او طالبانو وینی نور هم شرمه وی.

مولوی احمدجان د یوی بلی پوښتنی په ځواب کښی وویل: د ربانی د هیئتونو کړی ددی شاهدی ورکوی چی دوی نور په جرگو او مرکو خپل بدنام ژوند نه شی اوږدولی. جهادی تنظیمونه، جهادی شوری او جهادی قوماندانان په دی ناولی اداره نور باور او اعتماد نه شی کولای.

مولوی احمدجان د یوی پوښتنی په ځواب کښی وویل د طالبانو په منځ کښی د اختلاف عامل نشته نو ځکه د طالبانو تر منځ اختلاف هم نه شی راتلای. مولوی احمدجان زیاته کړه همدا اوس اوس د طالبانو اسلامی تحریك د زیات استحکام او ښه تنظیم کیدو په درشل کښی ده.

مولوی احسان الله (احسان) در مصاحبه با نشریه عربی «قضایا دولیة» گفتند:

چهارده سال جهاد در افغانستان تنها برای افغانستان نبوده بلکه برای همه، امت اسلامی بود

ما حکومت ظاهرشاه را قبول کرده نمیتوانیم فساد آن از هیچ کس پوشیده نیست

ص٤

ما با همهء مسلمانهای جهان محبت داریم

ص٤

دطالبانو داسلامی تحریك دملاتړ په لړ کښی دپکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو دقومی مشرانو لخوا دگردیز په ښار کښی یوه لویه غونډه وشوه

د پکتیا ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال دلیندی دمیاشتی په ۲۸مه نیټه دپکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو دقوماندانانو قومی مشرانو اوسپین ږیرو لخوا دطالبانو داسلامی تحریك دملاتړ په لړ کښی یوه درنه غونډه جوړه شوی وه چی په نوموړی غونډه کښی مولوی جلال الدین (حقانی) او حاجی محمد نعیم کوچی هم برخه درلوده.

غونډه دسهار په لسو بجو دقرآن کریم دځو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل او

ص٤

دبین الملل یو لوړ رتبه هیئت په کندهار کښی دطالبانو داسلامی تحریك له امیر او داسلام خادم ملا محمد عمر(مجاهد) سره ولیدل

له کندهار نه د(شریعت اونیزی) خبریال خبر راکړ چی دروان هجری لمریز کال دجدی دمیاشتی په ۲ مه نیټه دبین الملل یو لوړ رتبه هیئت چی له دغو زواتو مرکب وو دشرقی مدیترانی دپاره دنړی والی روغتیا نی سازمان رئیس ډاکټر عبدالرزاق (حسین الجزائری) دافغانستان لپاره د W.H.O رئیس ډاکټر محمد عاشور (جبرائیل) او دافغانستان دروغتیاپخوانی وزیر ډاکټر (فاطمی) کندهار ته را ورسید په هوایی میدان دکندهار دروغتیا رئیس ډاکټر محمد ابراهیم (بلوچ) او ښاروال ملامحمد عباس لخوا ورته هرکلی وویل شو.

دشریعت خبریال زیاتوی راغلی هیئت دکندهار له ښاروال سره دکندهار په وضع مکملی خبری وکړی ورپسی دماسپښین په (۳) بجو یی دطالبانو داسلامی تحریك له محترم امیر او داسلام له خادم ملا محمد عمر(مجاهد) سره ولیدل چی هیئت دطالبانو له کنترول لاندی سیمو کښی دعدل قلاری او امن پوره ستاینه او دطالبانو له اسلامی تحریك سره یی دبشپړی انسانی همکاری ژمنه وکړه.

دغه راز هیئت دکندهار په میرویس روغتون کښی د میکروبی او ساری ناروغیو دمرکز پرانسته وکړه.

دپېښور د موټر دبم چاودنه یو غیر اسلامی عمل دی

داکار هغه څوك ترسره کولای شی چی دانسان او انسانیت دښمن وی

(په پیښور کښی دطالبانو مسؤله ځانگه).

د طالبانو د اسلامی تحریك د صوبه سرحد نمایندگی له دفتر څخه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د پیښور دصدر بازار کښی دبم د خونړی چاودنی په مناسبت چی ۵۰ تنه مړه او ۲۰۰ تنه ټپی ټپیان شول د طالبانو دنمایندگی مسؤولی څانگی دغه عمل غیر اسلامی بللی او ویلی یی دی دا کار هغه څوك ترسره کولای شی چی د انسان او انسانیت دښمن وی.

خبر ځای وړاندی لیکی: دغه راز د پیښی دقربانیانو بازماندگانو ته له لوی خدای(ج) څخه د صبر جمیل او ټپیانو ته د ژر تر ژره بشپړی روغتیا دعا غوښتنه وشوه. او همدارنگه د پاکستان له حکومت او ملت سره پدی ستر غم او درد کښی دغم شریکی اعلان وشو.

دطالبانو کاروان ته د څمکنیو ولسوالی دخلکو، جهادی قوماندانانو، او قومی مشرانو لخوا تود هرکلی وو ویل شو

دپکتیا ولایت دڅمکنیو ولسوالی نه دشریعت خبریال خبر راکوی چی دروان کال د لیندی دمیاشتی په (۱٦) مه نیټه له گردیز څخه د طالبانو یو کاروان د شهرنو ولسوالی ته راورسید چی د سیمی خلکو، قومی مشرانو، جهادی قوماندانانو او علماء کرامو ورته ډیره توده ستړی مشی ورکړه او د ډول ډول وسلو په ډزویی استقبال کړل. خبر وړاندی لیکی په سبایی دڅمکنیو قومی شوری د طالبانو دراتلو په وياړ درنده میلمستیا وکړه او هم یی طالبانو ته دهر ډول مرستی وعدی ورکړی دغه خبروړاندی زیاتوی: په دریمه ورځ د پکتیا یو نامتو سر لښکر او روحانی شخصیت خلیفه عبدالواحد صاحب د مقبلو د مدرسی له طالبانو استاذانو سره یو ځای دطالبانو هرکلی دپاره دڅمکنیو ولسوالی شهرنوته چی په موټرونو بی سپین بیرغونه ربیدل او دطالبانو دملاتړ چیغی یی زمزمه کولی ورغی او طالبانو ته یی دمرستی داد ورکړ.

دغه راز دنورو قومونو ولی هم دطالبانو هر کلی او دمرستی وعدو ورکولوته ور روانی دی.

په میدان ښار کښی دربانی دبدنامی اداری یوه جیت جنگی الوتکه رانسکوره شوه

دمیدان له ولایت نه د(شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال دلیندی دمیاشتی په ۳۰ مه نیټه دمیدان ښار دللندر په سیمه کښی دربانی دبدنامی اداری جنگی طیارو دطالبانو داسلامی تحریك دمجاهدینو په سنگرونو بمونه غورځول پیل کړل چی داسلامی تحریك دمجاهدینو ددافع هوا توغندیو تر هدف لاندی راغلی او یوه جیت جنگی الوتکه یی ځمکی ته رانسکوره شوه.

مولوی سیدمحمد هاشمی بحضور امیر محترم و مجاهد تحریك اسلامی طالبان شرفیاب گردیدند

طبق یك خبر دیگر آژانس اطلاعاتی باختر محترم مولوی سیدمحمد هاشمی منشی دفتر امارت حرکت انقلاب اسلامی افغانستان در قندهار در دفتر امارت بحضور امیر محترم و مجاهد تحریك اسلامی طالبان شرفیاب گردیده و از پشتیبانی کامل رهبر و اعضای تنظیم خویش به تحریك اسلامی طالبان اطمینان کامل دادند.

وی افزود: تنظیم حرکت انقلاب اسلامی افغانستان که از اول ظهور تحریك اسلامی طالبان پشتیبانی شان را با این تحریك اعلان داشته و با اداره مکار ربانی که منبع تمام مشکلات در کشور است قطع رابطه نموده گفته اند که قدرت را به تحریك اسلامی طالبان انتقال نمایند تا حصول ارمان مسلمانان و شهدای جهاد افغانستان از این تحریك پشتیبانی و تأئید خواهد کرد.

در مقابل امیر محترم و مجاهد تحریك از همکاری شان اظهار اطمینان نموده افزودند که:

قایم کردن نظام اسلامی در افغانستان وظیفهء همهء ماو شما است؛ باید در این راه همه مسلمانان بحد اعظمی کوشش کنند.

دغزنی په ولایت کښی دیوی پرتمینی غونډی په ترځ کی یو شمیر مقرری وشوی

ص٤

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نه کړی چی دا ډول سپیځلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

اداره

سرمقاله

جهاد قلهء بلند و شامخ اسلام

خاطره جهاد که در اذهان و وجدان امت مسلمه مرده بود و مسلمانان در بارهء جهاد هیچ نمی اندیشیدند و اصلاً احساس مسؤولیت را به اذهان و افکار خود جای نمیدادند، تقدیر خداوند متعال برین رفت که غرض احیاء فریضه جهاد ملت مسلمان و سلحشور افغانرا توفیق عنایت فرماید تا فریضه‌جهاد را که قلهء مرتفع و شامخ اسلام است بار دیگر در ذهنیت ها زنده بسازد از همین جا بود که ملت عزیز افغان آستین بر زدند با دست خالی و نیروی پرتوان ایمان داخل معرکه و کارزار شدند که لله الحمد این مرحله های دشوار آزمون و امتحانرا مؤفقانه بسر رسانیدند و افتخار بسی بزرگ و تاریخی را برای خود و کافهء مسلمین جهان بدست آوردند و فریضهء جهاد – که ماسونیزم یهودیت لغو آنرا از اذهان و برنامهء زنده کی مسلمین دیگر جنبهء عملی داده بود – عملاً احیاء داشته و موفق ساخت تا برای بالابردن امت مسلمة به مدارج مرتفع عزت و سرفرازی همت بگمارد امتیکه شکست خورده و یا در پرتگاه هزیمت قرار دارد و روحیهء مقاومت و ایستادگی را باخته است و نمیتواند در مقابل اجنبی ها قد علم نماید تفهیم نماید که تنها و تنها راه عزت، قوت ارتقاء و عظمت در جهاد است در جهاد.

ذلت، رسوائی، وهن و ترس در ترك و گزاشتن جهاده جهاد مقدس ملت افغان به نصرت عظیم خداوند توانست و قادر گردید تا راه اعتماد و تکیه بر نفس را به امت اسلامی باز گرداند و در اعماق، ضمیر و وجدان مسلمین نهال امید و آرزو غرس نماید و تخم امید بر افشاند.

دیگر به این ملت مجاهد و کشور افغانیان امید های همهء مسلمین مستضعف جهان بسته گردید و راه نجات خود را در راهی یافتند که افغانیان انتخاب کرده بودند (جهاد).

اما کفار استعمارگر و دشمنان اسلام و مسلمین که زیرکتر، ماهرتر و کهنه کارتر از قیادتها و سرپراهان جهاد بودند از همان آغاز در فکر و چاره ای شده بودند که نگزارند بابی را که دها سال بقدرت شمشیر، خدعه، فریب و نیرنگ ماهرانه بروی مسلمین بسته بودند؛ قیام و مبارزهء ملت افغان آن باب عزت، سعادت، حریت و ارتقاء (جهاد) را گشوده بود بار دیگر بسته و قفل

٤مخ

د حضرت عمرو بن الجموح(رض) په ژوند لنډی خبری

۳مخ

مشکلات و احساس مسؤولیت

ص۲

مهاجر افغان باید و نه ځوریږی

له پاکستانی وروڼو سره په غم کی برابر شریك یو

۲مخ

از تزلزل بیش محکم میشود بنیاد ما

ص۳

ترڅو به دوکی او فریبونه کوی؟

۲مخ

ترڅو به دوکی او فریبونه کوي؟

ابو عبدالعلیم

ویل کیږی چی استاد ربانی د پاکستانی مقاماتو په نوم دوه ځانګړی لیکونه استولی دی، او له دوی څخه یی غوښتنه کړی ده چی د افغانستان د موجوده کشالی د حل د پاره دی د یوی بشپړی طرحی په وړاندی کولو سره په افغانستان کی د منځګړتوب او ثالثی چاری پیل کړی. که څه هم ددغو لیکونو محتویات تر اوسه پوری کاملاً څرګند شوی نه دی، خو دکابل د اداری د سیاسی مواقفو له سیاق او سباق څخه اټکل کیدایشی چی هغوی د یو داسی سیاسی حل په لټه کی دی، چی له یوی خوا دوی په راتلونکی حکومت کی ښه برخوال وی او له بلی خوا ددوی نظامی ځواکونه چی تر اوسه پوری د هر ډول جنایت او استبداد مسئول دی، په مرکز کی ځای په ځای پاتی شی.

عادتاً د کابل د اداری دا ډول وړاندیزونه د اخلاص او نیك نیتی په اساس ولاړ نه وی، بلکی هدف یی ډیپلوماتیك فساد او نفاق وی، څو له یوی خوا ګاونډیو هیوادونو او بین المللی ټولنی ته ځان د بحران د حل په اړوند مخلص معرفی کړی، او له بلی خوا د طالبانو په اسلامی تحریك باندی ټرپوال سیاسی فشارونه واچوی، او د هغوی توجه له نظامی عملیاتو څخه دداسی سیاسی مذاکراتو په لور واړوی چی هدف یی پراځی د خپلی غیر اسلامی او محدودی واکمنی د ذلت شپی او ورځی اوږدول، او ځان ته په راتلونکی کی د سیاسی بقا چانس تر لاسه کول وي.

خو اوس ټول خلك په دی باندی پوهیدلی دی چی د کابل اداری خپل ملی او بین المللی حیثیت او اعتبار له لاسه ورکړی دی، نور نه په هیواد کی د ننه څوك په دوی باندی اعتماد او بروسه کولای شی، او نه هم له هیواد څخه د باندی. نه یی په ملی سطحه له چا سره په اخلاص او صداقت معامله کړی ده او نه یی په بین المللی سطحه کوم قاطع او اصولی دریځ خپل کړی دی. تر اوسه پوری یی نه کومه اصولی دوستی پاللی ده او نه خوږی کومه عقیدوی دښمنی سر ته رسولی ده.

دوی د اسلام په نوم د افغانستان ملت ته دوکه ورکړه، اسلامی شعائر یی د ریا او تظاهر په اساس د خلکو د غولونی د پاره استعمال کړل، د عمل په میدان کی یی خپل داخلی او خارجی سیاست له پخوانیو کمونستانو څخه کاپی کړی او له هغو سره یی په ګډه تعقیبوی.

ربانی او دهغه ملګرو ته په کار دی چی لږ څه په خپل ګریوان کی سر کښته کړی او له خدای جل جلاله څخه ووېرېږی، د اسلامی جهاد د شهیدانو ارمانونه ور په یاد کړی، له خپل وجدان څخه پوښتنه وکړی چی آیا د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت څوارلس کاله د کمونستانو او روسانو په خلاف جهاد ددی د پاره کړی، چی په نتیجه کی دی د کمونستانو او فاسقانو په ګډون دغه مشترکه بی دینه او فاسده اداره په دوی باندی مسلط شی او ددوی مال، عزت او ناموس دی برباد شی؟ او آیا دغه جهاد ددی د پاره ؤ چی د وخت ټول دوستان دی دښمنان او د یونیم میلیون شهیدانو قاتلان (روسان او هندوان) دی دوستان او سرپرستان شی؟ او آیا دغه جهاد ددی لپاره ؤ چی دغه مجاهد ملت دی بیرته د روسانو او هندوانو په قوماندہ د خپلو مجاهدو ملګرو له خوا د اور په لمبو کی وسوځل شی، او دجهاد د دوری ملګری هیوادونه دی له تهدید او خطر سره مخامخ کړی؟

د کابل اداری ته په کار دی چی نور له نفاق څخه لاس واخلی، ددی په ځای چی له هیواد نه د باندی د ځان د بقا او د فساد د تداوم لپاره خلکو ته غولونکی لیکونه لیږی، خپل مجاهد ملت ته رجوع وکړی، او په ټولو سهوو او غلطیو باندی دی معترف او توبه ګار شی، استاد ربانی او د هغه امیر احمدشاه مسعود دی خپل ځانونه د طالبانو اسلامی تحریك ته تسلیم کړی، څو په دنیا کی د روسانو او هندوانو تر تسلط لاندی له ذلت آمیز ژوند څخه نجات و مومی، او په آخرت کی الله جل جلاله بښنه ورته وکړی. والسلام.

ددولت د مشر (امام) د ټاکلو دنده

په تیر پسی

غازي خیل

اوږده جر او بحث نه وروسته حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) د حضرت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خلیفه وټاکه او بیعت یی ورسره وکړ، له دغه واقعیت نه د اسلامی امت لپاره د امام او مشر ضرورت او اهمیت په ډیره آسانتیا سره معلومیدلای شی.

دلته به په ډیر تأسف، خپګان او افسوس سره ووایو چی:

ربانی نه شرعی امام، نه د امامت ګټی، ښیګڼی، مقاصد او اغراض پکښی شته او نه دا توقع ورنه کیدای شی، هغه یوازی د فسق، فحشاء، رشوتونو، چور او تالان د بقا لپاره د ټوپو د لاس آله ده.

د امامت اغراض او مقاصد خولا پرېږده! چی پرېږده! بلکی د افغانستان مسلمان ځوریدلی -مګر باتور- ملت دده په شرمیدلی موده کښی څومره ناخوالی او ناشونی ولیدلی! څومره یی ناحقه وینی وبهیدلی! څومره یی مالونه چور او څومره یی ناموسونه یی پښه شول! دا اوس اوس دده په پای تخت(!) کښی چی څومره فحشاء، بی دینی، رشوتونه، چور او تالان دی نه یوازی دا چی د روس د مزدورو کمونستانو دوره یی شرمولی ده بلکی تاریخ به یی د نړۍ په هیڅ ځای کښی مثال وړاندی نه کړای شی.

هغه څوك چی لا اوس هم دده ملاتړ کوی هغوی یوازی د فحشاء، فساد او چور لپاره زمینه مساعده ساتی او ځان ته پیسی او وبال ډېروی.

څرنګه چی اوس د افغانستان مجاهد میړنی او مسلمان ملت ته له شرعی امام او مشر سره د بیعت کولو وجیبه ور په غاړه ده او ددغه مقصد لپاره ډیری منډی ترړی شوی او ټولی هڅی یی نتیجی پاتی شوی او د جهاد د پیل غوندی نوری قربانی ته اړه پیدا شوه د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك، هغه څوك چی د څوارلس کلن جهاد په پیل کښی له هر چا نه مخکښی قربانی ته را وړاندی شوی وو یو ځل بیا یی دغه میدان ته را ودانګل، مشر یی وټاکه او تر اوسه یی په دغه لاره کښی قربانی ورکړی تر نیمایی نه یی په زیات افغانستان کښی امن راووست، شرعی احکام او حدود یی جاری کړل او لا قربانی ورکوی او د سیلاب په شان پر مخ ځی.

نو ای د افغانستان مجاهدو او غیرتمنو مسلمانانو! چی په زړونو کښی مو د ایمان رڼا بله ده او د اسلامی نظام د قیام لپاره مو له څوارلس کاله زیاته موده د اور او اوسپنو تر باړانونو لاندی خپلی غوښی وریتی کړی او د همدغه ارمان د تحقق لپاره مو په لکونو د زړه ټوټی اولادونه قربان کړل، مه پرېږدی چی خودخواهان او د قدرت لیونیان ستاسی په ارمان باندی نوری هم لوبی وکړی، څومره چی ژر کیدای شی په یوه غږ سره د حق له دغه کاروان سره یو ځای د مقصد په لوری روان او د اسلامی نظام د قیام او له شرعی امام سره د بیعت کولو واجب پر ځای کړی.

***

طالبان څوك دي؟

په تیر پسی

ابواحسان

دی او طالبانو خپل مسلمان ملت ته واك ورکړی دی چی په وطن کی د ظلم و ستم ټپی ټبانی بیخی له منځه وړی.

وایی چی «پرونه له خدایه څه غواړی؟ دوه سترګی» نو دردیدلی، ځوریدلی او کړیدلی ملت ددغو وعدو او واك ګیرنو په پام کی نیولو سره د طالبانو ملا وتړله او ربښتیا هم په کومو سیمو کی چی دطالبانو حاکمیت ټینګ شو هلته ورسره امن راغی، عدالت راغی او خلکو د آرام ساه واخستله ځکه خو نو دوی په ډېره لږه موده کی له نیمایی افغانستان څخه زیاته برخه ونیوه او دادی اوس دکابل په کوڅو او بازارونو کی د ظلم، ناروا او ستم دبیخی پای ته رسولو په هلو ځلو بوخت دی، له بلی خوا طالبان د وطن د اوسیدونکو تر منځ ټول ژبنی، او سمتی تمایلات بیخی له منځه وړل غواړی او کوښښ کوی چی افغانان لکه د پخوا په شان پخپلو کی سره ورونه وروڼه کړی او دغه دشخصی قدرت دساتلو په غرض دملت پخپلو کی دجنګولو پروسه د تل لپاره پای ته ورسوی.

نتیجه داشوه چی طالبان د چا ذاتی دښمنان او نه دچا شخصی دوستاندی، دوی ددی تاریخی وطن بچیان دی او دتاریخ په دی حساسو شیبو کی یوازی او یوازی د اسلامی جهاد داهدافو او دوطن دنجات لپاره راپورته شوی دی.

مهاجر افغان باید و نه ځورول شي

له پاکستانی ورونو سره په غم کی برابر شریك یو

عبدالحکیم (مجاهد)

تیره پنجشنبه ماښام د دښامیر بویشتمه د پیښور په صدر بازار کی یوه زړه دردوونکی چاودنه وشوه، چی په نتیجه کی یی د پنځه دیرشو څخه زیات قیمتی او بی ګناه انسانان په شهادت ورسېدل. وانا لله و انا الیه راجعون».

ددغه جنایت مرتکب که هر څوك وی، نه انسان دی او نه واقعی مسلمان دی، ځکه انسان دومره پست فطرته وحشی او ګناور نشی کیدلای چی خپل هم نوعه انسانان دی، بی د کوم جرم او ګناه څخه په داسی بی رحمی او بربریت سره ووژنی. او مسلمان ځکه نشی کیدلای چی د الله رسول صلی الله علیه وسلم خو د مسلمان په تعریف کی فرمایلی دی: «مسلمان هغه څوك دی چی نور مسلمانان یی د لاس او ژبی څخه په امن شول». او لوی خدای جل جلاله فرمایی «څوك چی یو مؤمن قصداً ووژنی د تل دپاره به په جهنم کی وی».

- له دی امله ویلای شو چی ددغه جنایت مجرمان نه انسانان دی او نه خو مسلمانان دی، دوی د انسانیت قاتلان دی.

موږه په دغه موقع د شهیدانو له وارثانو او پاکستان د خلکو سره په دی غم کی برابر شریك یو، الله تعالی دی د شهیدانو درجی لوړی او غمجنو کورنیو ته دی الله جل جلاله د صبر کولو توفیق ورکړی، او پاکستانی مقاماتو ته دی الله ددی توان ورکړی چی د جنایت اصلی مجرمان کشف او د قانون زورورو منګولو ته یی وسپاری، څو یی د خپل بد عمل په سزا باندی ورسوی.

موږه په داسی حال کی چی دغه مجرمانه عمل سخت غندو او بد ورته وایو، ورسره ورسره د پاکستان له مسؤولو مقاماتو څخه غوښتنه کوو، چی خپلی هلی ځلی د اصلی مجرمانو په تعقیب باندی متمرکزی کړی. د عامو افغانانو ځورونه دی په یو مخیزه ډول نه کوی، عام افغانان د پاکستان دوستان دی، هغوی پاکستان د ځان دوهم کور بولی. د پاکستان ورڼو په هر دره باندی دردمن او په هر غم یی غمجن دي. د افغانستان او پاکستان دښمنان لګیا دی چی ددواړو ملتونو تر مینځ د ورورولی تاریخی اړیکی خرابی کړی.

موږ باور لرو چی ددغه مجرمانه عمل تر شا د اسلام ددښمنانو لاس دی. هندوان او روسان لګیا دی چی په سیمه کی نا آرامی رامنځته کړی، او خپل انتقامونه واخلی، خپل اجنټان او غلامان یی ګمارلی دی. دغه اجنټان که افغانان وی، که پاکستانیان او که بل څوك، د اسلام او مسلمانانو دښمنان دي. څمونږه ټولو ایمانی او وجدانی وظیفه ده چی د مجرمانو په پیدا کولو کی د پاکستان له امنیتی مقاماتو سره مرسته وکړو! څو ددښمنانو مجرمانه پوګرامونه شنډ کړو او دوی په خپله سزا باندی ورسیږی.

اوس هغه وخت ډیر لیری نه دی چی دواړه ملتونو مسلمانان به په خپلو دښمنانو باندی بری مومی او په سوله او آرامی کی به د واك او اطمینان ژوند کوی. انشاء الله.

د شریعت اونیزه

غازي خیل

دطالبانو د اسلامی تحریك له خوا دغه اونیزه خپرونه د (شریعت) په نوم مثلی شوی ده.

دلته به دهغو محترمو لوستونکو په زړه کښی (چی په شرعی علومو کښی کم معلومات ولری) دغه پوښتنی راګرزی چی:

١- د شریعت لغوی او اصطلاحی معنی په څه وی؟

٢- د دغه نوم له ایښودلو څخه به کوم مقصد ته اشاره کول غواړی؟

موږ به په دغه ګڼه کښی انشاء الله تعالی دغو پوښتنو ته لنډ شانته ځواب ووایو او دنور تفصیل لپاره ضروری ده چی ګران لوستونکی د (شریعت) راتلونکی ګڼی په پوره غور پرله پسی ولولی.

١- شریعت ، شرع، شرعة د لغت په لحاظ ښکاره لاری او آئین په معنی دی. او په اصطلاح کښی هغه الهی لارښوونه ده چی الله تعالی د ټول بشریت د دنیا او آخرت د ګټو او ښیګڼی لپاره د بشر له لومړی پیدایښت نه تر نن زمانی او بیا تر قیامته پوری دخپلو بولك او خلوروپشت زرو (کمو، زیاتو) پیغمبرانو علیهم الصلوة و السلام په واسطه را آستولی ده.

پیغمبران علیهم الصلوة و السلام ټول انسانان او تاریخ تیر شوی دی، په لومړی سر کښی یی ابوالبشر سیدنا آدم علیه الصلوة و السلام او په پای کښی یی حضرت خیرالمرسلین، خاتم النبیین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ؤ.

دوی ټول د الله تعالی هغه مخلص او معصوم بندګان وو چی دالله تعالی تر ټول مخلوق، ان تر ملائکو هم بهتر وو او د انسانانو داعتماد را جلبولو لپاره یی له هری وړی او لویی ګناه څخه پاك ساتلی وو.

دمحمد رسول الله صلی الله علیه وآله و سلم امت چی دده له وخت نه تر قیامته پوری غزیدلی دی شریعت یی قرآن مجید او دپیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم حدیثونه دی، قرآن مجید الله تعالی د جبرئیل علیه السلام په خوله عین هغو الفاظو چی الله تعالی ورزده کړی وو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته له معنی سره ورزده کړی دی او د وفات تر وخته پوری به هر کال جبرئیل علیه السلام د روژی په میاشت کښی ورسره تکرار کاوه او په وروستی روژه کښی یی دوه کرته ورسره تکرار کړی دی. دغه وحی جلی ده.

حدیثونه هغه مضمونونه دی چی الله تعالی جبرئیل علیه السلام ته ورسوولی دی او هغه بیا رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم ته رسولی دی خو دالفاظو رعایت یی هغومره په ټینګه سره نه دی وربانذی لازم کړی لکه د قرآن پاك، او بیا الله تعالی یو مضمون مخامخ د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په زړه کی وراچولی دی بیا رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم دواړه مضمونونه په خپلو الفاظو کښی موږ ته ویلی دی، دغه وحی خفی ده.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم به خپل اصحابان رضی الله تعالی عنهم د قرآن پاك او حدیث مبارك په لفظ او مطلب عملاً پوهول او هغوی به چی څومره قرآن پاك زده کاوه عملی تطبیق به یی هم ورسره کاوه.

اصحابانو رضی الله تعالی عنهم بیا تا بعینو رحمة الله تعالی علیهم ته د قرآن پاك او حدیثونو لفظ او معنی ورزده کړی ده، تابعین رحمة الله تعالی علیهم هغه بزرګان دی چی اصحابان (رض) یی لیدلی وو، امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه، له تابعینو څخه دی.

تابعینو رحمة الله تعالی علیهم بیا دقرآن مجید او حدیث لفظ او مطلب تبع تابعینو ته ورزده کړی ؤ.

تبع تابعین رحمة الله تعالی علیهم هغه بزرګان دی چی تابعین (رح) یی لیدلی دی.

امام مالك، امام شافعی، امام ابویوسف، امام محمد او امام احمد بن حنبل رحمة الله تعالی علیهم تبع تابعین دی.

په دغه ترتیب سره د اسلامی امت بزرګانو (مجتهدینو او علماوو) رحمة الله تعالی علیهم د قرآن مجید او حدیث مبارك لفظ او معنی تر موږ پوری په پرله پسی توګه پوره راورسوله. الله تعالی دی اجرونه ورکړی.

په دغه ترځ کی د څلورو مذهبونو امامانو رحمة الله تعالی علیهم هر یوه په خپل وارسره د هغی علمی نبوغ، دقیق فهم او خیرکتیا پر بنسټ چی الله تعالی په خپل لوی فضل او حکمت سره ورښلی وه دمسلمانانو دزیاتی اسانتیا لپاره د قرآن مجید او حدیثونو هغه معنی او مطلب چی په اسلامی عقیده او عملی احکامو پوری اړه لری له یوه مخه بیرون نویس کړی دی چی اوس د حنفی فقهی، مالکی فقهی، شافعی فقهی او حنبلی فقهی په نومونو یادیږی، دا دقرآن مجید او حدیث مبارك خلاصه او د مسلمانانو شریعت دی.

٢- اوس به هغی دویمی پوښتنی ته راشو چی: ددغه نوم له ایښودلو څخه به کوم مقصد ته اشاره کول غواړی؟

محترمولوستونکو: موږ ټول الله تعالی پیدا کړی او دهغه بندګان یو، دهغه بندګی کول را باندی فرض دی که یی و نه کړو نو بیا به - خدای دی نه کړی - عذابونه راکوی ځکه چی دبندګی لپاره یی پیدا کړی یو، بندګی په هغه شان را څخه غواړی چی په شریعت کښی یی را ته ټاکلی ده او شریعت یی داسی جامع دی چی: زمونږ عقاید، عبادات، معاملات، کورنی ژوند، په ټولنه کښی ژوند، له نورو خلکو سره اړیکی، راکړه، ورکړه، اخلاق او هر څه راته منظم اوسموی. که له ځانه سره سم دانصاف سوچ وکړو توبه پوهیږو چی الله تعالی دشریعت په راوستولو سره پر موږ څومره لوی فضل او احسان کړی دی، سبحان الله و بحمده .

له دی نه سربیره یی د شریعت په عملی کولو سره هر انسان ته که هغه نر وی او که ښځه د ابدی جنت وعده ورکړی ده هغه جنت چی هغه دنعمتونو، مزو او خوشالیو کور دی، بل احسان یی لادغه دی چی: زمونږ نابالغان، لیونیان، سخت مریضان او بیهوشان یی دشریعت له تکلیف څخه معاف کړی دی.

نو چی پام وکړو دا خبره به راته چوته شی چی د الله تعالی شریعت زمونږ د شیبته کلن یا اویا کلن او یا اتیا کلن ژوند اصلی مقصد دی، د هر انسان بلکی د هر حیوان دا طبیعی خوی دی چی خپل مقصد هیڅ وخت له نظره نه غورزوی، د (شریعت اونیزه) چی کله یی په نوم زمونږ سترګی لګیږی دغه لوی مقصد به راپه یاد کوی؛ بله خبره داده چی دغه نوم دی ټکی ته اشاره ده چی دافغانستان دڅوارلس کلن جهاد او قربانیو، سټونځو او هجرتونو په نتیجه کښی له یده مرغه موږ مسلمانانو د پاك شریعت دعملی کولو خوند او مزه و نه لیدله او دلکونو شهیدانو کرامو (رحمة الله تعالی علیهم) معلولینو، بی کوره مهاجرینو خوارکیو کونډو او یتیمانو ارمانونه نیمګړی او نیمه خوا پاتی شول، اوس ددغه ارمان د پوره کولو لپاره دنګیالیو، په شریعت مینو طالبانو اسلامی تحریك کلکه ملا تړلی ده، چه سایسته تنکی ځوان طالبان او نوی دعلومو فارغان چی اکثره یی د قرآن پاك حافظان وو تورو خاورو ته ټیټ شول او خیالی توری څخی یی په خاورو سپېری شوی او دغه لړۍ لا نه په درزسره روانه ده، داټول دالله تعالی د پاك شریعت د عملی کولو لپاره دی.

نو هغه مسلمانان چی په زړونو کښی یی دایمان ډیوه بله ده هرومرو به په دغه درد، دردمن او ددغه تحریك په ملاتړ به دجهاد او قربانی میدان ته ورداننګی.

د حضرت عمرو بن الجموح (رض) په ژوند لنډی خبری

عمرو بن الجموح دجاهلیت په وخت کښی دیثرب له مشرانو د بنوسلمة المصود، له ساداتو د مدینی له سخیانو او د ځوانمردی له خاوندانو څخه و.

د جاهلیت په وخت کښی د اشرافو حال داوو چی هریوه به په خپل کور کښی دخپل ځان دپاره بت درلود څو چی (په خپل باطل ګمان) په دغه بت سره سبایګا برکت و موښی په موسمونو کښی دهغه دپاره حلاله وکړی او په سختیو کښی ورته رجوع وکړی!!!

دعمرو بن الجموح بت (مناة) نومیده او هغه دغه بت له یوه ارزښتناك لرګی څخه جوړ کړی و.

عمرو ددغه بت ډیر مراعات کاوه او هغه به یی په ډیرو معطرو شیانو غوړاوه.

دعمرو بن الجموح عمرله شپیتو کلونو اوښتی وه په دغه وخت کښی دیثرب په کورونو کښی دلومړنی زیری ورکونکی (معصب بن عمیر) په واسطه دایمان پلوشی خپریدلی او دعمرو د دریو زامنو مور (هند) هم داسلام دمنلو شرف او افتخار ترلاسه کړی و حال داچی عمرو د هغی له ایمان راوړلو څخه خبرنه و.

دعمرو بن الجموح ښځی (هند) وکتل چی اسلام دیثرب په خلکو غلبه کړی ده او په شرك کښی یی دهغی له میړه او څو تنو مشرانو څخه بل څوك نه لیدل کیده.

هغی دخپل میړه سره ډیره مینه درلوده او دهغه یی ډیر احترام کاوه او له دی څخه یی ډیره ویره کوله چی میړه یی دکفر په حالت کښی مړ شی او د دوزخ اورته ورننوځی.

په دغه وخت کښی عمرو هم داویره کوله نه چی زامن یی دپلرونو او نیکونو له دین څخه واوړی او داسلام دبلونکی (معصب بن عمیر) په لار روان شی ځکه معصب په لږ وخت کښی وکولای شو چی ډیر خلك له خپل دین څخه واړوی او د محمد (ص) د دین متونکی یی کړی.

هغه خپلی ښځی ته وویل: ای هنده! کوښښ کوه چه ستا زامن له دغه سړی (معصب بن عمیر) سره مخامخ نشی څو د هغه په باب فکر وکړو.

هغی وویل: په سر او سترګو ایا خوښه دی ده چی ددغه سړی دوینا په باب له خپل زوی (معاذ) څخه څه واوری؟

هغه وویل: افسوس دی معاذ له خپل دین څخه ګرځیدلی دی او زه هیڅ پوه نه یم؟!

ددغی صالحی ښځی زړه په سپین ږیری میړه وسوځیده او وی ویل: هیڅ کله داسی نه ده مګر کله کله دهغه غونډو ته حاضر شوی دی او دهغه څخه یی څه زده کړی دی.

هغه وویل: ماته یی راوغواړه.

کله چی زوی پلارته راغی نو پلار خپل زوی ته وویل: هغه څه چی دغه سړی وایی له هغه څخه څه ماته واوروه.

زوی وویل: هغه خلکو ته (بسم الله او الحمدلله) شریف وربښی.

پلاوو ویل:

څنګه ښه وینادا! او څه ښکلی ده؟!

معاذ وویل: پلاره! له دی څخه هم ښه، آیا خوښه دی ده چی دغه متابعت وکړی؟ حال دا چی ستا قوم دهغه سره بیعت کړی دی.

سپین ږیری لږ څه شانی چپ پاته شو او بیایی وویل: زه دغه کار تر هغه نه کوم څو می د (مناة) سره مشوره نه وی کړی څو وګورم چی هغه څه وایی.

زلمی ورته وویل:

ای پلاره: مناة څه نشی ویلای ځکه هغه کوڼ لرګی دی. او هغه نه څه فکر کولای شی، او نه څه خبری.

سپین ږیری په ډیره تنده لهجه وویل:

مادرته وویل چی زه یی له هغه څخه څه نکوم.

بیا عمرو بن الجموح مناة - ته ودرید.

کله چی به هغو وغوښتل چی د -مناة - سره خبری وکړی نو ددغه بت شاته به یی یوه زړه ښځه و دروله څو دغه ښځه د بت څخه - دهغو په ګمان - په هغه څه چی هغی ته یی ښودل ځواب ورکړی.

بیا عمرو په خپلی لوړی تنی - مناة ته مخامخ په هغه روغه پښه ودرید او د مناة یی ډیر صفت وکړ او بیایی وویل:

ای مناته! ته پوهیږی چی دغه بلونکی (معصب) چی د مکی څخه مورته راغلی یی لتاڅخه دبل چا بدی نه غواړی او هغه ددی دپاره راغلی دی چی موږ له تاڅخه منع کړی او سره ددی چی ما ور څخه ښی خبری اوریدلی زه دهغه سره بیعت نه خوښوم او دا تر هغه وخته چی څو ستاسره مشوره و نه کړم نو ته ماته مشوره راکړه.

مناة ورته هیڅ ځواب ورنه کړای شو.

بیاهغه وویل:

ممکن ته په قهر شوی یی او زه داسی کارنه کوم چی بیاتاته څه ضرر ورسوی نو زه تا دڅو ورځو دپاره پرېږدم څو ستا قهر سوړ شی.

زامنوته له مناة سره دپلار علاقه معلومه وه او هغو ته څرګنده شوی وه چی دپلار په زړه کښی یی تزلزل او بی ثباتی ده او دغه مینه د هغه له زړه څخه مخ په وتلو ده او دا د هغه دایمان لاره ده.

دعمرو بن الجموح زامن او معاذ بن جبل (رض) د شپی له مخی مناة ته لاړل او هغه یی له ځان سره واخست او د بنو

نور بیا

سپیڅلي اهداف

شهرت ننګیال

هدف چې مقدس وي، ضمیر چې سپیڅلی وي، احساس چې پاك وي، نیت چې صاف وي، ایمان چې غښتلی وي، منزل که لیری هم وي، نژدی شي، منزل که سخت وي آسان شي، سفر که اوږد او بې وسیلی هم وي لنډ شي.

چې دچا نظر ژور وي فکریې لوړ وي؛ ځکه خو ځوك اقتدار غواړي چې واکمني وکړي، ځوك توان او قدرت غواړي چې بندګي وکړي.

ځوك په زړونو پادشاهي کوي، ځوك په سرونو، د زړونو قلمرو ډیر پراخ وي، حدود نلري، پولی نه پیژني اوسرحدونه نه مني.

دزړونو دپادشاهي عمر اوږد وي دا پادشاهي بې تاجه وي خو بې واکه نه وي، ځوك نور وژني چې ژوندي پاتې شي ځوك ځانونه وژني چې نوروته ژوند وروبخښي، ځوك پواځې دنیا غواړي د خپل آخرت په بیه، ځوك دنیا جوړوي خو دآخرت لپاره.

ځوك خپله بقا په جنګ کې ویني او دجګرو اورونه بلوي او پدغه اورونو دخپل اقتدار د لړزانده ماڼی خام دیوالونه پخول غواړي.

ځوك د اورونو لوبې ته په کرکه ګوري او قدرت دولس دمینې او ارادې پر بنسټونو مضبوطول غواړي ځوك دبل په وسلو دبل په پیسو خپل پلوري، خپل اخلي او خپل وژني.

ځوك دبل له زور ظلم او احتیاج نه خپل زغوري او دپردیو له رحم او کرم نه بې بې نیازه کوي.

ځوك دمینې ورورولي او اخوت خواږه ویشي، ځوك دنفرت، کرکې او دښمنۍ زهر خوروي، ځوك هرڅه ورانوي چې ځان جوړکړي، ځوك لکه شمعه دځان په مرګ نوروته رڼا او خلا وركوي.

ځوك ملت په یوه مرکز، یوه عشق او یوه هدف یولول غواړي.

ځوك بې دڅېږي، قوم او سمت په کرښو او نومونو تیت پرك کوي.

ځوك غواړي چې فاصلې ختمي شي، درنګونو، سمتونو او نسلونو بتان دړې وړې شي. ځوك لګیادی پدغو نومونو او عنوانونو نوي واټونه او تعصبونه را منځ ته کوي، ځوك په توپ ټانګ، په ټانك متکی، دی په الوتکه غره دی، په تاکتیکونو، ترټلو او د پردیو په سازشونو تکیه لري.

او ځوك دالله پر مرسته او نصرت، دولس په ملاتړ او دخپل هدف پر سپیڅلتیا او اخلاص باوه او باوري دي.

هغه مادي او فاني اسباب دي، ضربه متونکی وسایل، بشري، اوبې روحه امکانات دي.

او دا الهي لازواله قدرت، روحي او معنوي ارځښتونه دي، عقیده ده، عشق دی صداقت دی اخلاص دی او همدا تلپاتې حقیقتونه، ابدی واقعیتونه او جاوداني ویاړونه دي.

بری او برلاسی ورووستی فتحه او سرلوړي د همدغو ده.

د ادب ملغلري

د قرآن مجید په سورې کښې د مؤمنانو نښې

نقیب الله آزاد

١- مؤمنان لمونځونه په خضوع او عاجزۍ سره کوي، زړه یې د الله په بندګۍ خوشاله وي.

٢- د خپلو لمونځونو د شرطونو، ارکانو او دوام حفاظت او ساتنه کوي.

٣- په ولاړه، ناسته او په اړخ ملاسته الله تعالی ورته یاد وي.

٤- تل په کائناتو کښې فکر کوي او د الله تعالی د قدرت عجائب پکښې ګوري.

٥- د الله تعالی په لاره کې خپل سر، مال او اولاد نه سپموي.

٦- له بې ګټې خبرو، لهو او لعب څخه تیښته کوي.

٧- بې ځایه غصه نه کوي او له هغې نه کرکه لري.

٨- که چیری یو ناپوهه او چټې انسان (دبې خونده خبری) خطاب ورته کوي نو -سلاماً- ورته وايي او تیریږي.

٩- مسلمان ورور ته په ورین تندي او مسکا ګوري

١٠- هم پخپله انصاف کوي، هم په انصاف ګواهي ادا کوي او هم د ځان لپاره انصاف لټوي.

خدای(ج) به خیر کړي

(ابواحسان)

هغه به چې هر ځل د وطن د حالاتو په باب د اندیښنو او سوچونو په سمندرګی لاهو شو، نو له ځانه سره به یې وویل چې خدای(ج) به خیر کړي، که د وطن د دردیدلو او ویرجنو حالاتو به سخت وځوراوه او دچا خبره چې لوړی او ګودر به تری ورك شو نو بیا به یې له ځان سره ورو غوندی وویل څه خدای(ج) به خیر کړي، که په وطن کی به د اجناسو او خوراکي موادو دبیې لوړ والی او د افغانیو د ارزښت کموالي وړیاندې تبه راوسته او د کړکیچنو حالاتو پرله پسې اوږده بهیر به سخت و ځوراوه او دراتلونکی په باب به نا امیدی ورته پیدا شوه، نو بیاه به بې له یوه ساړه اسویلی سره بوځای له خولی ووتل چې څه خدای(ج) به خیر کړي.

د همدغو تاوجنو او ویرجنو حالاتو بهیر دومره اوږد شو چې هغه اوس په دې هم نیوهیږي چې دحالاتو د خرابۍ او د وطن دتباهۍ ملامتی په چا ور واچوي، کله له ځانه سره وایې چې فلانی ملامت دی، بیا وایې نه هغه یل ددی حالاتو مسؤول دی او بیا وایې نه هغه او دغه ټول ملامت دی، خو چې په دې یې هم تسل ونه شي نو وایې چې بره موږ ټول ملامت یو، خو څه خدای(ج) به خیر کړي.

